پوهندوی آصف بهاند

# د انجنیر سلطان‌جان کلیوال
## فرهنګي ـ علمي هڅو ته یوه کتنه



خدای‌بښلی انجینیر سلطان‌جان کلیوال



دا دی بیا د فلک خوني منګولې زموږ د فرهنګ د بڼ پرخوا راوږدې شوې او زموږ د فرهنګ یو بل ګل يې ورژاوه. په میډیا کې ډېرفعال، د افغان جرمن پورټال قلمي همکار، شاعر، لیکوال، ژباړن او د ګڼشمېر کتابونو مؤلف، انجنیر سلطان‌جان کلیوال يې د تل له پاره له موږ نه بېل کړ.

نن (۲۰۲۵/۰۳/۲۴) مې د ښاغلي زهیر شینواري په فیسباکه کې د ده د مړيني خبر ترسترګو شو:

«انا لله وانا الیه راجعون !

د هیواد ستر شخصیت, انجنیر، لیکوال، شاعر، د لسګونو کتابونو مولف، زموږدروند عزیز سلطان جان کلیوال شینواري هم نن خپل ژوند حق ته وسپاره!

الله دې د ارواښاد اوه واړه جنتونه په نصیب کړي او کورنۍ ته يې د زړه صبر ورکړي، امین»

زه غواړم په دې مقاله کې د خدای‌بښلي سلطان‌جان کلیوال د علمي ــ فرهنګي شخصیت پر بېلابېلو اړخونو وغږېږم، خو تر هغه مخکې د ده پېژندنه اړینه ده.

## د خدایبښلي سلطان‌جان کلیوال بیوګرافي:

ښاغلی انجنیر سلطان جان کلیوال د افغان جرمن انلاین پورتال دایمي قلمي همکار و او خپله قلمي همکاري يې له ۲۰۰۸ ام کال نه را په دې خوا پیل کړې وه. په دې پورتال کې يې لنډه پېژندونه داسې راوړل شوې ده:

«نوم : سلطان جان
تخلص: کلیوال
د زیږیدو نیټه: د حمل ۱۳۳۰/۲ هـ ش ( مارچ/۱۹۵۰/۲۲ میلادی.

د زیږیدو ځای: د ننګرهار ولایت/ د هسکی میني ولسوالی/ د کوټه والو کلی ( شینواری)
تحصیلات: د رحمان بابا عالی لیسه، تر دولسم ټولګی پوری.کال ۱۳۴۸/ کابل ــ افغانستان
له ۱۳۴۹ ــ ۱۳۵۵ د کبل د پولیتخنیک انستیتوت (لیسانس)

په ۱۳۵۵ کال کی د عسکری د مکلفیت دوره ۶ میاشتی په تعلیمی غونډ کی. کابل.

د ماموریت پیل: له ۱۳۵۵کال میزان له میاشتی تر ۱۳۷۵ کاله پوری د انجنیر په صفت د کانو او صنایعو د وزارت د کانو او جیالوجی په ریاست کی په ساحوی او اداری کارو بوختیا.

له ۱۳۵۸ ــ ۱۳۵۹ کلونو کی د کابل پولیتخنیک د شپی پوهنځۍ کی د ماستری دیپلوم.

په ۱۹۸۵ ــ ۱۹۸۷ کلونو کی د هندوستان په هیواد کی ساحوی عملی میتودیک تحصیلات په شپږو ځانګړو مرکزونو کی ( سرتیفیکت )

په ۱۹۸۸ کال کی د پولیند په هیواد کی د آتومی انرژۍ د تولید په انستیتوت کی د نریوالی آتومی انرژۍ د اداری له خوا د سکالرشیپ په اخستلو سره عملی زده کړه د کراکوف ښار. ( سرتیفیکت )
ادبی کار: له پنځم ټولګي راهیسی په پښتو ژبه کی شعر لیکی له اتم ټولګی راهیسی تر او سه پوری نثر او شعر دواړه لیکی. تر اوسه یی ډیر ی لیکنی په هیواد کی دننه او له هیواد بهر په ورځپانو، جریدو، مجلو او ویب پاڼو کی نشر شویدی. چاپ شوی آثار یی دادی:

۱ ــ تغمي (د شعری ټولګه) ۱۳۶۹ کال د لیکوالو د انجمن چاپ ــ کابل،

۲ ــ دروند کور درني خبرې ۱۳۷۸ کال د ننګرهار د فرهنګي ټولني چاپ ــ پېښور،

۳ ـ وختونه اوغمونه (شعری ټولګه) ۱۳۹۱ کال چاپ،

۴ ـ د څپو پر سر(شعری ټولګه) ۱۳۹۱ کال چاپ،

۵ ـ زما خاوره زما مينه (شعری ټولګه) ۱۳۹۱ کال چاپ،

۶ ـ رازونه او رمزونه (شعری ټولګه)۱۳۹۱ کال چاپ،

۷ ـ د عمر خيام د رباعياتو پښتو ژباړه ۱۳۹۱ کال چاپ،

۸ ـ د نوميالیو په لړ کې ( د شهيد زرغون شاه ماما ژوند ليک) ۱۳۹۱ کال چاپ،

يادونه: له دريمې شمارې څخه تر نهمې شمارې پورې اثار د ګودر خپرندويی ټولنی له خوا شويدی.

مسـلـکی ليکنې:

۹ ـ د جيالوجيکی اصطلاحاتو تشريحی قاموس ۱۳۹۱ کال چاپ،

۱۰ د ځلورمې دورې د رسوباتو جيالوجيکي څيړنې ( ګستنتری چاپ) د کانو او جيالوجی اداره،

۱۱ـ د هوايی عکسونو تعبير او تفسير(ګستنتری چاپ)، ياده شوې اداره،

چاپ ته تيار اثار:

۱ ـ پښتو ـ دری ـ انګليسی ډکشنري،

۲ ـ د کلچر له مخې انسان پيژندنه،

۳ ـ اخلاقي ارزښتونه،

انجنير کليوال د ۱۳۷۶ ل (۱۹۹۷ ز) کال را په دی خوا د کانادا د انتاريو د ايالت د تورنتو په ښار کی د خپلی کورنی سر ژوند کوی . يوه لور او دری زامن لری وروستی زوی يی همدا اوس د تورنتو د يونورستی په دريم ټولګي کی درس وای او دری نورو اولادونو يی تحصيلات پای ته رسولی او په کار لګيا دی.

کليوال همدا اوس هم د تورنتو په ښار کی د افغاني کميونيټی په ادبی او ټولنيزو فعاليتونو کی پوره ونډه اخلی او په ملی مسايلو کی د ځانګړی نظر خاوند دی.

په درنښت»

کليوال ترنارو‌غېدو مخکې د افغان جرمن يوفعاله قلمي همکار و او په ياد پورټال کې يې د خپرو شوو مطالبو شمېر ۵۱۰ ته رسېږي چې په دې کې ګڼې سياسي، ټولنيزې مقالې او شعرونه شامل دي.

په ويکيپيډيا کې د کليوال بيوګرافي:

سلطان جان کليوال
سلطان جان کليوال (۱۳۳۰ لمريز کال د وري ۲، د ۱۹۵۰ ز کال د مارچ ۲۲، د ننګرهار ولايت، هسکه مېنه) د افغانستان يو پښتو ژبې شاعر او ليکوال دی.
مخينه
[سمول]

انجنیر سلطان جان کلیوال د ۱۹۵۰ ز کال د مارچ میاشتې پر ۲۲ نېټه، چې د ۱۳۳۰ لمریز کال دوري میاشتې له دویمې نیټې سره سمون لري، دننگرهار ولایت د هسکې مېنې د کوټه والو په کلي کې زیږیدلی او په خټه شینواری پښتون دی.

سلطان جان کلیوال خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې پر ۱۳۴۸ لمریز کال د کابل د رحمان بابا عالي لیسه کې تر دولسم ټولگی پورې پای ته رسولې دی. تر دې وروسته پر ۱۳۴۹ لمریز کال د کابل په پولیتخنیک انستیتوت کې شامل شوی او پر ۱۳۵۵ لمریز کال یې نوموړی انستیتوت د لیسانس په درجه او جیولوجست په توگه پای ته رسولی دی. پر ۱۳۵۵ کال یې د پوځی خدمت د مکلفیت ۶ میاشتینۍ دوره د کابل په تعلیمی غونډ کی ترسره کړې ده.

دندې

[سمول]

۱- له ۱۳۵۵ لمریز کال د تلې له میاشتې تر ۱۳۵۷ کاله پوری د کانو او صنایعو وزارت د کانو او جیالوجې په ریاست کې د انجنیر په توگه په ساحوی او اداری کارو بوختی وو.
۲- په ۱۳۵۸ ـ ۱۳۵۹ کلونو کی د کابل پولیتخنیک د شپې پوهنځي کې د ماستری ډیپلوم تر لاسه کړ.
۳- په ۱۹۸۵ ـ ۱۹۸۷ کلونو کې یې په هند هېواد کی په ساحوي عملی میتودیکي برخه کې په شپږو ځانگړو مرکزونو کی زده کړې کړې دی. ( سرتیفیکټ )
۴- په ۱۹۸۸ زیږدیز کال کې د پولیند هیواد په کراکوف ښار کی د اتومي انرژۍ د تولید په انستیتوت کی د نړیوالې اتومي انرژۍ د ادارې له خوا د سکالرشیپ په اخستلو سره عملی زده کړه کړې ده. (سرتیفیکت).

چاپ شوي اثار یې

[سمول]

انجنیر سلطان جان کلیوال له پنځم ټولگي راهیسی په پښتو ژبه کی شعر لیکي، له اتم ټولگي راهیسې تر اوسه پورې نثر او شعر دواړه لیکي. تر اوسه یې ډیرې لیکنې په هېواد کې دننه او له هېواده بهر ورځپاڼو، اووه نیزو ، مجلو او ویب پاڼو کی خپرې شوي دي. چاپ شوی اثار یی دادی:
۱ ــ تغمې (شعری ټولگه) ۱۳۶۹ کال د لیکوالو د انجمن چاپ، کابل.
۲ ــ درونده کور درنې خبرې، د ۱۳۷۸ ل کال د ننگرهار د فرهنگي ټولنې چاپ، پېښور.
۳ ــ وختونه او غمونه (شعری ټولگه) د ۱۳۹۱ ل کال چاپ.
۴ ــ د څپو پر سر (شعری ټولگه) د ۱۳۹۱ ل کال چاپ.
۵ ــ زما خاوره زما مینه (شعری ټولگه) د ۱۳۹۱ ل کال چاپ.
۶ ــ رازونه او رمزونه (شعری ټولگه) د ۱۳۹۱ ل کال چاپ.
۷ ــ د عمر خیام د رباعیاتو پښتو ژباړه، د ۱۳۹۱ ل کال چاپ.
۸ ــ د نومیالیو په لړ کې (د شهید زرغون شاه ماما ژوند لیک)، د ۱۳۹۱ ل کال چاپ.
یادونه: له دریمې شمیرې نه تر نهمې شمیرې پورې اثار د گودر خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوي دي.
مسلکي لیکنې او اثار
[سمول]
۱- د جیالوجیکی اصطلاحاتو تشریحی قاموس، د ۱۳۹۱ ل کال چاپ.
۲- د څلورمې دورې د رسوباتو جیالوجیکي څېړنې (گستنتری چاپ) د کانو او جیالوجی اداره.
۳- د هوایي عکسونو تعبیر او تفسیر (گستنتري چاپ)، یاده شوې اداره.
چاپ ته چمتو اثار:
۱ ــ پښتو ــ دری ــ انگلیسي سیند
۲ ــ د کلچر له مخې انسان پیژندنه

۳ ــ اخلاقي ارزښتونه
۴ــ نوي شعري ټولګه
۵ــ د سلګونو بیلابیلو مقالو مجموعه

انجنیر سلطان‌جان کلیوال د ۱۳۷۶ لیږدیز یا (۱۹۹۷زیږدیز ) کال راهیسي د کاناډا هېواد د انتاریو ایالت په تورنټو ښار کي له خپلي کورنۍ سره ژوند کوي. نوموړی یوه لور او درې زامن لری، ټولو اولادونو یی تحصیلات پای ته رسولی او په کار بوخت دي.»

د خداییبښلي سلطان‌جان کلیوال ورو الف کلیوال، د ده د مړینې په ورځ د څو نورو پوستونو په ترڅ کې یوځل داسي هم ولیکل:

«د خپل ګران ورور آنجینیر کلیوال د کلام نمونه چی د خپلی مریضی په وخت کی یی لیکلی وو له دوستانو سره شریکوم،»




روح یی ښاد یاد یی تل پاتی.»

زه یي داسي انګېرم چي دا به د خدایښلي سلطان‌جان کلیوال د کلام وروستۍ بېلګه وي.

د ۲۰۲۲ ام کال د جون په ۲۳مه نېټه په کاناډا کې د پیوستون ټولني له خوا د «د لیکوال او شاعر سلطان‌جان کلیوال د ادبي او فرهنګي هڅو ستاینغونډه وشوه» ترسرلیک لاندې یوه ستاینغونډه جوړه شوې وه. په همدې باب د پژواک خبرې اژانس یورپوټ خپور کړ چي په یوه برخه کي یی داسي راغلي دي:

«تورنټو (پژواک، د چنګاښ لومړۍ نیټه ۱۴۰۱): پیوستون ټولنې د لیکوال، شاعر او شنونکي انجنیر سلطان‌جان کلیوال ستاینغونډه د کاناډا په تورنټو ښار کي جوړه کړه .

د پیوستون ټولني مشر حاجي شریف مومن په خپله پرانیستونکي وینا کي وویل چي افغانان خپل پوهان، لیکوالان او شاعران په ښه توګه نه ستايي خو د پیوستون ټولنه له دې وروسته هڅه کوي چي د ویاړلو شخصیتونو ستاینه د هغوی په ژوند کې وکړي.

هغه وويل: "راځئ له دې وروسته د کلیوال په څېر د وياړلو شخصیتونو ستاینه او درناوی د دوی په ژوند کې وکړو او دوی ته وښایو چې تاسو د دې ټولنې با ارزښته وګړي یاست او موږ پر تاسو وياړو."

غونډې ته استاد محمد معصوم هوتک، استاد باهر فورمولي، د ولسي جرګې پخوانی غړي شینکۍ کړوخېل، روښان خادم او نورو ګڼو شاعرانو او لیکوالو د کلیوال پر شخصیت او ادبي ژوند رڼا واچوله...»

ښاغلي کلیوال د خپل علمي ـ فرهنګي ژوند په اوږدو کې د علم او فرهنګ په څوبرخو کې ګڼې مقالې، شعرونه او کتابونه په میراث پرېښي دي. زه د سلطان‌جان کلیوال علمي ـ فرهنګي کارونه په لاندې برخو ویشم:

**الف: مسلکي لیکنې،**

**ب: د تخلیق په برخه کې،**

**ج: سیاسي لیکنې،**

**د: ټولنیزې لیکنې،**

**هـ ـ د قاموس لیکنې په برخه کې،**

**و : د سلطان‌جان کلیوال ژباړې.**

اوس به پر دې هرې برخې باندې د لاسلرلو معلوماتو او منابعو په استناد، خبرې وکړم:

**الف: مسلکي لیکنې:**

د کلیوال مسلک جیولوژي و، دی یوجیولوجست، د مځکپوهنې عالم و او د معدنونو سروې او ارزونه یې کوله. ده خپل مسلک هم نه و هېر کړی او په دې برخه کې یې هم ارزښمن کارونه کړي دي. کلیوال د خپل مسلک په باب د ګڼشمېر مقالو د لیکلو ترڅنګ دغه آثار هم لیکلي دي:

ــ د ځلورمې دورې د رسوباتو جیالوجیکي څېرنې (ګستنتری چاپ) د کانو او جیالوجی اداره،

ــ د هوایی عکسونو تعبیر او تفسیر(ګستنتری چاپ)، د کانو او جیالوجی اداره،

ــ د جیالوجیکی اصطلاحاتو تشریحی قاموس ۱۳۹۱ کال چاپ.

دغه راز کلیوال په خپل مسلک پورې اړند ګڼشمېر علمي ـ مسلکي مقالې هم لیکلي دي. دا یې له لینکونو سره د څو مقالو سرلیکونه دي:

ــ د افغانستان لیتیومو او د معدني زېرمو په هکله:

https://www.facebook.com/sultan.kaliwal/posts/pfbid022rENyEWHr-pada6mdJoWJ8Z4LsZJKgjyzEacnEtjACzs9TiUqWDH6fuf1mSkzaQXJl

ــ په افغانستان کی د لیتیوم د فلز د زخیرو د کشف ډرامه:

https://www.facebook.com/sultan.kaliwal/posts/pfbid02gp8DeBqDon-Biqa4VJNQuy6DvMDEafGe68pt7MzATdV9Y9Z5rd8osgCuDAesf3SsVl

ــ د افغانستان د کانی زیرمو چور چپاول ته یوه لنډه کتنه:

https://www.facebook.com/sultan.ka-liwal/posts/pfbid097nvMuH5zgEU5RW69P87GaKXQNfYCxNmp5XrwG44PLBNUYKHSy32cc3GhSg5hFWYl

ـ په پاکستان باندي د ډبرو د سکرو(ذغال سنګ) پلورل ما ته د ملی ګټو په ضد عمل ښکاري:

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Ka-liwal_s_skara_m_gaty.pdf

ـ قصه تصاحب معادن زمرد پنجشير توسط احمدشاه مسعود،
https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/kliwal_s_tasa-heb_zamurud_tawasute_ahmad_shah_massoud.pdf

ـ اشغال معدن ياقوت جګدلک سروبی توسط قوماندن محمد انور:

https://www.afghan-german.net/up-load/Tahlilha_PDF/kliwal_s_ashghal_yaqot_m_anwar.pdf

## ب: د تخليق په برخه کې:

سلطان‌جان کليوال د خپل فرهنګي ژوند ډېره برخه شاعرۍ ته بېله کړې وه. د کليوال صاحب د شاعرۍ مخينه ډېرو پخوانيو وختونو ته ورګرځي. د ده په بيوګرافي کې راغلي دي چې: «... له پنځم ټولګي راهيسې په پښتو ژبه کی شعر ليکی.»

کليوال صاحب شاعري وحی او الهي ډالۍ ګڼي. د ده په دې لاندې ټوټه شعر کې د شاعرۍ په باب د ده نظر ډېر ښه انځور شوی دی:

### شـــاعـري

راته نازله ښکاری، پاس له اسمان شاعري ــ لکه د وحيي په څير
چی سموي لارو ته، ټول ګمراهان شاعري ــ لکه د وحيي په څير
مفتـی! خبره واوره، کافر مې و نه ګڼـې
ګڼم بی شکه تحـفه، د رب منان شاعري ــ لکه د وحيي په څير
دتحـرک وسـيـله ، لـکـه کـلام د الله ج
ده ګټوره هومره، دا د انسان شاعـري ــ لکه د وحيي په څير
چی مو خيالی دنيا ته ، حقيقی بڼـه ورکړی
دی محبت شاعرۍ، د ژوند ارمان شاعري ــ لکه د وحيي په څير
ده په ميـراث را پاتی، مونږ ته له تيرو وختو
ثبت د تاريخ پاڼو کی ، د هر زمان شاعري ــ لکه د وحيي په څير
شي مزه داره هلـه، چی موسيقی يی مل شي
ده د خوشحال شاعرۍ، هم د رحمان شاعرۍ ــ لکه د وحيي په څير
شـاعـرۍ مه بنـدوئ، موسيقي مه بنـدوئ
پرئ چی را و وريږی، رحمت باران شـاعـري ــ لکه د وحيي په څير

دسمبر ۲۴/ ۲۰۲۳

کليوال صاحب په پښتو مقفی او ازاده شاعرۍ کې ښه طبعه ازمايي کړې ده، د دې طبعه ازمايي په پايله کې يې پنځه شعري ټولګې د چاپ په ګاڼه سمبال شوې دي او د ناچاپو ټولګو په باب يې معلومات نه لرم.

په بيوګرافۍ کې يې د دغو شعري ټولګو نومونه راوړل شوې دي:

ــ تغمې (د شعری ټولګه) ۱۳۶۹ کال د ليکوالو د انجمن چاپ ــ کابل،

ــ وختونه اوغمونه (شعری ټولګه) ۱۳۹۱ کال چاپ،

ــ د ځپو پر سر(شعری ټولګه) ۱۳۹۱ کال چاپ،

ــ زما خاوره زما مينه (شعری ټولګه) ۱۳۹۱ کال چاپ،

ــ رازونه او رمزونه (شعری ټولګه)۱۳۹۱ کال چاپ،




کليوال صاحب د خپلو تلخيقاتو په لړ کې کله کله د جاپانی هايکوګانو شوق هم کړی دی او داسې ازاد شعرونه يې تخليق کړي دي چې د ده په وينا جاپاني هايکوګانو ته ورته دي. دا لاندې يې يوه بېلګه ده:

**«د جاپانی ژبې د هايکويی شعر په پيروۍ يو څو ماتې ګوډې:**

ژونـد کـرائی کـور دی
تری به کـوچيری يو وخت

تیــاری له اوس ونیســه!
===
مینه له پاسـه راځـی
لکه باران له وریځو
خاورې ته ژوند ورکوی
===
یمه دی زړه ته حیران
هم یکی اوسی رحمان
هم یکی پروت دی شیطان
===
د خپل جوړښت له مخی
زړونه ټول یو ډول دي
خو، د مور زړه جدا دی
===
د اور نه کاني جوړ شي
کانی نه کور جوړ شي
یا ورنه جوړشي زړه
===
له اوبو ژوند پیدا شي
ژوند له خوندونو ډک وی
یا له دردونو ډک وی
===
آزاد او ږوند پیدا یم
نو پاغونده ولی شم
د چا بنــده ولی شم؟
===
زه افغانی ګلاب یم
د خور اوربل ښکلوم
مور او کابل ښکلوم.
د پلار شملې ته ورځم
د ننګ دیرې ته ورځم
د وروړ مورچې ته ورځم
جنوری/
۲۰۲۴/۳

د مرحوم کلیوال د کلام بیلګه:

**خیــالونه**

بل رنګ به دا دنیا وای، دا خیالونه که ریښتیا وای
هرڅوک به پیر پاچا وای، دا خیالونه که ریښتیا وای

دنیـا به جوړ جنت وای، نه به غم وای نه ژړا
توفان به د خندا وای، دا خیـالونه که ریښتیا وای

نشـي او تمـاشـي به وای، یاران به وای را تول
حـاکمـه به ښـکلا وای، دا خیالونه که ریښتیا وای

ځـواني به همیشه وای، او مسـتي به وای هـمیش
زلمی به هـر بـوډا وای، دا خیالونه که ریښتیا وای

لمبي به د جنګ نه وای، نه به وای شــهـید ــ غازي
صـفا بـه دا هـوا وای، دا خیـالـونه که ریښتیا وای

*****

یا جـوړ به دا باغـونه وای، د اور سـره تنــورونه
خیالونه که ریښــتیا وای، وریـدل به سـره اورونه

ښــارونه به کابل وای، هـیـوادونه به اوکــراین
هـر مـلـک به کربـلا وای، وای د وینــو به رودونه

هـر زړه به د چنـګیز وای او هـر سـر به د هِـتلـر
جهان کی به غوغا وای، وای هـره خـواته به مرګونه

هـرخـوک به بی مغزو وای، د بایدن - پوتین په څیر
فرعـون به جـوړ بیا وای، له ســروو نه دیوالونه

پــوهـیــږي یـــو الله، پـــه انـــتـــظـام د کا ئیـــنـــات
ریښتیا دی چیری نه شي، دا زمونږه پوچ خیالونه

۲۰۲۲/۰۷/۲۲

ج: سیاسي لیکني:

کلیوال صاحب سیاسي لیکني هم کولي. زما له نظره ده ژوندۍ سیاسي لیکني کولي، په دې مانا چي ده به په خپلو سیاسي مقالو کي پر هغو ورځنیو تودو خبرو چي یوڅه په افغانانو او افغانستان پورې تړلي وې یوڅه لیکل، موضوع به یې توزیح کوله، خپل نظر به یې ځرګنداوه او له یوې پایلي سره به یې خپلو مخاطبینو ته وړاندې کوله. دلته به یې د څو همداسي سیاسي لیکنو سرلیکونه او د هغو لینکونه کېږدم:

ــ د لویو قدرتونو په کشمکش کی به د افغانستان موقعیت چیری وی؟

https://dawatmedia24.com/?p=155956

ــ د امریکا د جمهوررئیس جوبایدن وروستۍ وینا د طالبانو د حکومت په هکله:

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Ka-liwal_s_de_usa_j_wayna.pdf

ــ په افغانستان کي د لیتیوم د فلز د ذخیرو د کشف درامه:

https://dawatmedia24.com/?p=155916

ــ همه شمول حکومت څه شی دی؟

https://dawatmedia24.com/?p=160129

ـ په افغانستان کې د تل پاتې سولې د تامین له پاره یوه نوې لار:

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Ka-liwal_s_t_p_sola.pdf

ـ د طالبانو د حکومت په مخ کې پرتې ستونزې به څنګه حل شي؟

https://dawatmedia24.com/?p=162569

## د: تولنيزې ليکنې:

کليوال د تولنې او پر تولنه باندې د حاکمو قوانينو په باب هم مقالې او کتابونه ليکلي دي. مقالې يې په افغانستان کې دننه او له هېواده دباندې په چاپي او انلاين خپرونو کې خپرې شوې دي. دا يې په همدې موضوع پورې اړوند د څو خپرو شوو کتابونو نومونه دي:

۱ ـ د کلچر له مخې انسان پېژندنه،

۲ ـ اخلاقي ارزښتونه،

۳ ـ دروند کور درنې خبرې ۱۳۷۸ کال د ننګرهار د فرهنګي تولنې چاپ ـ پېښور.

## هـ ـ د قاموس ليکنې په برخه کې:

کليوال د قاموس ليکنې درانه کارته هم اوږه ورکړې وه او په يوازې تن يې دوه مهم قاموسونه ليکلي دي. دا يې نومونه دي:

۱ ـ پښتو ـ درى ـ انګليسى ډکشنري، ناچاپ،

۲ ـ د جيالوجيکى اصطلاحاتو تشريحى قاموس ۱۳۹۱ کال چاپ.

## و : د سلطانجان کليوال ژباړې:

کليوال د خپل فرهنګي ژوند په اوږدو کې ژباړې هم نه دي هېرې کړې، د خپل توان او حوصلې په اندازه يې ژباړې هم کړې دي او له دې لارې يې د خپلې مورنى ژبې په غنا کې فعاله ونده اخيستې ده.

ـ د عمر خيام د رباعياتو ژباړه،

ـ د اقبال لاهوري د رباعياتو ژباړه،

د عمر خيام د رباعياتو پښتو ژباړه ۱۳۹۱ کال چاپ،

ـ هلته چې د ښځو لپاره ډاکټر نشته

يو ځلې مې د ده د ژباړو په باب داسې ولوستل:
«هلته چې د ښځو لپاره ډاکټر نشته» دا هم د کليوال له خوا يو ژباړل شوى اثر دي، خو ناچاپ دى، کيسه يې جالبه، خو اوږده ده، که څوک يې د لوستلو لېوال وي په لاندې لينک کې يې ليدلاى او لوستلاى شي:

https://www.facebook.com/farid.ba-zger/posts/pfbid02LKouuivQNw1D8KWm8TuoDpxBfJrGQnGVD1bYL-RSs2iALsGpUhtYhsBQNVj6KRtrEl

دغه راز د کلیوال له خوا د اقبال لاهوري د رباعیاتو د ژباړې په باب په روایت دات کام کې د یوه رپوټ په ترڅ کې داسې راغلي دي:

«پایگاه خبری تحلیلی روایت : انجنیر سلطان‌جان کلیوال شینواری شاعر، نویسنده و مترجم سخت‌کوش افغان پس از برگردان رباعیات عمر خیام، پنج‌صد رباعی اقبال لاهوری – از دو مجموعهٔ "ارمغان حجاز" و "لالهٔ طور" – را با پرداز دل‌نشین به پشتو درآورده است. او در سرآغاز زحماتش می‌نویسد:«با سپاس و صمیمیت، پیشکش به همه دانش‌مندان، شاعران و هنرمندانی که آدمها را به وادی محبت فرامی‌خوانند، به انسان و انسانیت عشق می‌ورزند، دل‌های سرشار از مهر و تهی از کین دارند و در سراسر زندگی لحظه به لحظه به نیکویی می‌اندیشند و برای اقدام عملی دست به کار می‌شوند". (سنبلهٔ ۱۳۹۹/ جنوری 2021)»

فرید بزګر د کلیوال صاحب د یوې ناچاپ ژباړې جالبه کیسه لیکلې ده، که یې څوک د لوستلو مینه‌وال وي، دا لاندې لینک دې پرانیزي او ودې لولي:

https://www.facebook.com/farid.ba-zger/posts/pfbid02LKouuivQNw1D8KWm8TuoDpxBfJrGQnGVD1bYL-RSs2iALsGpUhtYhsBQNVj6KRtrEl

دلته د دې خبرې یادول اړین ګڼم چې سلطان‌جان کلیوال د نورو ژباړو تر څنګ «د بشري حقونو نړیواله اعلامیه» هم ژباړلې ده چې باید د ده یوجلا اثر وګڼل شي. د دې ژباړې متن ده په خپل فیسبوکپانه کې خپره کړې ده. کیسه به یې زه په لنډ ډول دلته ولیکم:

د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه:

د ۲۰۲۱ ام کال د اکتوبر ۲۳مه نېټه خدایبښلي کلیوال په خپله فیسبوکپانه کې داسې ولیکل:

«یادونه: ( زه نه پوهیږم چې دا اعلامیه به په پښتو ژباړل شوی وی کنه؟ ما د دی د پاره دا کار وکه، چې زمونږ د ټولنې ځوانان ور باندی و پوهیږی او په دی غور وکاندی چې موجوده انسانی ټولنه خصوصاً هغه ټولنې، چې د ستر ځواک لرونکی دی تر کومه حده دی نړیوال معتبر سند ته ارزښت ورکوی او یا هم ورته په ارزښت نه دی قایل؟ او که په ارزښت ورته نه وی قایل، د ملګرو ملتو نړیواله ټولنه ولی د دی نړیوال قانون نه د سر غړونی پوښتنه نشی کولی؟) « ژباړه له انګلیسی متن څخه شویده»

په هماغه ورځ ما د ده او نورو مینه‌والو د معلوماتو له پاره ولیکل چې دا اعلامیه زما وړور افغان اقتصاد پوه استاد شریف بهاند ژباړلې ده، له پښتو او دري متن سره جرمني متن هم لري او د یوې رسالې په ډول یې خپره کړې ده.




دغه راز ګران دوست احسان‌الله ارینزي هم د دې اعلامیې د یوې بلې ژباړې یادونه داسې ورته وکړه:

«د اکسوس کتاب خپرولو موسسې خاوند صفی الله ناصری دا اعلامیه ژباړلی او له خو نورو مهمو اسنادو سره یو ځای دری کاله مخکی خپره شوی ده. ما تیره هفته یو ۵۳۰ مخه کتاب په کابل جان کی چاپ ته واستاوه چی ( نړیوالی تولنی) نومی. د دی کتاب په ضمایمو کی هم دا اعلامیه بشپړه راغلی ده. دا همغه د ناصری ژباړه ده چی ما له اصل متن سره پرتله کړی او په خپل زعم می ډیر بدلونونه پکی راوستلی دی. که هغه متن دی په کار وی، زه به یی ورته ولیږم. مننه»

خو له دې سره سره مې بیا کلیوال صاحب ته ولیکل چې تاسو خپل ژباړل شوی متن خپور کړئ. د فرهنګ په ډګر کې دا دود شته چې یو اثر څو تنه کولای شي یوې ژبې ته وژباړي. له بلې خو زما له نظره دا اعلامیه دومره مهمه ده چې هرکال په بیاځلي دول هم خپره یا انلاین کړای شي، لا کمه ده.

کلیوال صاحب بیا خپل ژباړل شوی متن په خپله فیسبوکپاڼه کې له یوې مقدمې سره په څلور برخو کې خپور کړ. زه به د همدې څلور واړو برخو لینکونه دلته کېږدم څو لوستونکي وکولای شي چې له نظره یې تېره کړي:

د لومړۍ برخې لینک:

https://www.facebook.com/sultan.kaliwal/posts/pfbid0217YG2Ne5uPUEg4QVLL6GS5gsnLVN-NEr1F7U49KwgR4xpAS5wPxD3KcJpTQbhc2FLl

د دویمې برخې لینک:

https://www.facebook.com/sultan.kaliwal/posts/pfbid0FwgM2aC7LCnCT-BuVwK9T3pSNCUiiygcWqWhjSQhTSP6JXcvS3fBbdXqShBeb2EwNl

د دریمې برخې لینک:

https://www.facebook.com/sultan.kaliwal/posts/pfbid02ctkSeEUS-wYq9FXFYvUaRJ5mmMsckSZk7WiSu8ooNZ1Vtpz6yC7KRjQZy9G1pZcpNl

د ځلورمي برخي لینک:

https://www.facebook.com/sultan.kaliwal/posts/pfbid02qnQHKhPYZMoCdbqqyFZyyMSsDsWMZ2MhFF-BSDCG9KnqBptg81a7j22KQgGakHkzgl

زه دلته بیا په تکرار سره وایم چي له انګلیسي ژبي نه پښتو ژبي ته د دې اعلامي راژباړل، باید د کلیوال صاحب د یو جلا اثر په ډول حساب کړای شي.

کله چي کلیوال صاحب د ناروغۍ پربستر باندي پرېوت، ګڼشمېر فرهنګیان یې لیدلو او پوښتني ته ورغلل چي د هغو په ډله کي یو عصمت قانع و. ترلیدو او پوښتني وروسته قانع صاحب داسي ولیکل:

«ستادوطنپالني له نه ختمیدونکو محبتونو څخه مالامال زړه دي نه درېږي
څه نه شم ویلای
ته به یې موږ به نه یو
خو کاشکي وطنپرستان په طبعي مرګ هم نه مړه کېدلای
او دخپلو ارمانونو دقاتلانو انتقام یې دژوند د ننداړو تر ټولو ښکلي ننداره وای
کلیواله ته بختور یې
نه دي کافر وژلی او نه مسلمان
نه دي خلقي زخمي کړی او نه اخواني
نه دي له تاجکه نفرت کړی دی نه له ازبکه
ته دافغانستان ډېر صالح اولاد وې
ستا په بیلتون به ضرور افغانستان وژاړي
سلطان جان کلیوال دې الله له غیبو راته جوړ کړي.»

د کلیوال د کورنۍ او فرهنګي دوستانو او خواخوږو له هیلو او دوعاګانو سره سره کلیوال صاحب د مرګ استازي ته ښه راغلاست وویل او د ۲۰۲۵ ام کال د مارچ میاشتي په ۲۴ مه ورسره ولاړ، خدای دي له مخي رڼا کړي. د دوستانو د تسلیت پیامونو په پیل کي افغان جرمن پورتال د تسلیت دا پیام خپور کړ:

«د انجنیر سلطانجان کلیوال د مړیني په پار د افغان جرمن پورتال د خواخوږۍ او ډاډګېرني پیام:



افغان جرمن اداري په ډېرې خواشينۍ سره خبر تر لاسه کړ چي د افغانستان په میډیا کي ډېر فعال، د افغان جرمن پورټال قلمي همکار، شاعر، لیکوال، ژباړن او د لسګونو کتابونو مولف انجنیر سلطان‌جان کلیوال وفات شو.

**اناالله و اناالیه راجعون**

خدای‌بښلي کلیوال له افغان جرمن سره خپله قلمي همکاري تل جاري ساتلې وه او ۵۱۰ بېلابېل مطالب یې په افغان جرمن ارشیف کي خوندي شوي دي.

مونږ د انجنیر سلطان‌جان کلیوال مړینه لویه ضایعه ګڼو، دا داسي ضایعه او تشه ده چي د افغانستان په فرهنګي کړیو کي به تر ډېرو جبران او ډکه نه شي.

افغان جرمن کاري ټیم د خدای‌بښلي کلیوال له کورنۍ سره، په دې لوی ویر کي ځان شریک ګڼي، کورنۍ او دوستانو ته یي د خپل تسلیت مراتبو د وړاندې کولو ترڅنګ، دعا کوي چي لوی خدای دوی ته د جنتونو او کورنۍ ته یي د لوی زغم هیله کوي.

افغان جرمن پورټال کاري ټیم»

د کلیوال صاحب د مړیني په خاطر، د ده د خواخوږو او فرهنګیانو تأثرات او تسلیت پیامونه:

کله چي په میډیا کي د انجنیر سلطان‌جان کلیوال د مړیني خبر خپور شو، د نړۍ له هرې برخي نه افغان فرهنګیانو او د ده خواخوږو د تسلیت پیامونه خپاره کړل او د هغو په ترڅ کي یي د ده خدای‌بښلي د علمي ـ فرهنګي شخصیت په باب خپل نظریات ولیکل او خپل خاطرات یي له خلکو سره شریک کړل. د دې لیکني په پای کي به د همدې یادو پیامونو او خاطراتو ځیني بېلګي راواخلم:

سید منتظرشاه هاشمي:

«انا لله و انا الیه راجعون ط
کلیوال صیب دي الله ج وبښي، کورنۍ، خپلوانو او ټولو خواخوږو ته یي د لوی خدای ج له درباره د زړه صبر او ستر اجر غواړم.
کلیوال صیب د هېواد بو وتلی مسلکي کارپوه کادر، لیکوال، شاعر او زمونږ د ژوبل ملت بو رسا اواز و. د دې کادري او فرهنګي شخصیت تشه، هغه هم د هېواد په داسي شرایطو کي ګرانه او ناشوني ده چي ډکه شي. الله دې یي په ګور د رحم او مغفرت انوار ووروي.»

پوهاند ډوکتور لال‌پاچا ازمون:

«یو درون مشر او یو مینه ناک کلیوال
په نن او سبا کي وم چي د خپل درانه مشر او مینه ناک کلیوال پوښتني ته ورشم، هلته را ته یارانو ویل چي سفر له اختره وروسته کړه، ما د دوی ومنل، خبر نه وم چي مرګ را باندي د خپل مشر وروستی دیدن نه لوروي، نن مي له هغو یارانو سره د خولي خوند پیکه شو چي زه یي له ورتګه منع کولم. نن زما د هغه درانه مشر او مینه ناک کلیوال زنه په سپینه ریتاره تړل کېږي چي ټول عمر یي خلکو ته د ژوند د خوږلنی کیسي او منظومي خوږې خوږې خبرې کولي، خو مرګی ډېر ناځوانه دی، پر پښتانه قام یي دغه مینه ناک انسان و نه لوراوه او هغه یي له د ستورو له کتاره پر داسي مهال راپرېښت چي تازه په تازه یي خپل قام ته لیکلي توروي د چاپ له کومي را وایستل. دغه مینه ناک کلیوال د رنځ له بستره خپل د زړه په وینو رنګین توري د چاپ تر ماشینه ورسول او دا یي هیله وه چي خپل جګړه ځپلي ولس ته د رنځ له بستره په تورو ټکو کي د ژوند رنه سندره زمزمه کړي. ټولني ته د ادیب ډالی دژوند څراغ دی، خندني او مخ روښي سلطان جان کلیوال د اوږدې پردیسی په دیار کي بیا هم خپل خلک له یاده و نه وایستل، دوی ته یي د ژوند خوږه سندره او څراغونه ډالی کړل.»

احسان‌الله ارینزی:

«سلطان جان کلیوال په تانده ځوانۍ کې زموږ نژدی ګاوندی شو؛ ځکه چې د ارواښاد ماما زرغون شاه له لور سره یې واده وکړ. کلیوال له هماغه وخته درونډ، مدنی، مهذب، مودب او فعال انسان و. مسلکی انجنیر او ښه شاعر و. له وطنه لیری توپ ډیر وځوراوه. په مخه یې ر‌ڼا شه. اناالله و انااليه راجعون.»

خالق رشید:

«ددغه ستر او رټ دوست اوهیواد پال کلیوال صاحب ناڅاپي مرګ ولړزولم، دیوه خواخوږي مل اوملګري په توګه ددومره لویو ښیګړو لرونکی انسان و چې زه دم ګړۍ دهغو له پاره دبیانولو توان اوتکي نه لرم،یوازې دومره وایم چې:تاپه سختو شیبو کې هم دوطن درد تر خپل درد سخت وباله.وطن ته دې تسلیت!
جنت دې په برخه
یاد دتلپاتي
رشید
نهرو پوهنتون هند»

د دُرمحمد افغان‌یار په فیسبک‌پاڼه کې مې دا ویرنه ولیدله:

«ویرنه!
یوشملور ډک له کمال لاړ
زموږله کلي کلیوال لاړ!!!»




عصمت قانع:

«دا یاران لکه ګلونه دبهار دي
دخزان په تاو رژیږي دریغه دریغه
انجنیر سلطان جان کلیوال هم کلی پریښود او دابدیت دسفر پر پرلت کښیناست
کلیوال هغه عاشق اولیوال کلیوال وو چې په خپل عشق کې یوازې دخپل ځان مثال پخپله وو

هغه دافغاني وطنپرستانو په ډله کې هغه ځوک وو چې وطندوستی ته يې دخپل کردار په وينا معنی او مفهوم ورکړ
اروا يې ښاده
دجنازي دخښنولو اعلان به يې وروسته کيږي
ياد به يې دپيريو لپاره زموږ له راتلونکو نسلونو سره ښاد وي»

مسعود فاراني:

«بس که یاران در همین ویرانه ها گم گشته اند
می چکد اشکم ز چشم و خاک را بومی کند
با تأثر و تألم بزرگ خبر دردناک وفات جناب کلیوال، بزرگ مرد را شنیدم. متاسفانه که هیچ کلمه ای و هیچ جمله نمیتواند سنگینی حادثه مرگ فرزانه مرد شاعر و نویسنده ملی جناب کلیوال اندیشمند را جوابگو باشند.
فقط با سکوت غم انگیز اگر بتوانم این حادثه را تحمل کنم. زیرا بنظر من مرگ بزرگان دانش در ذات خود مرگ از یک جهان دانش و اندیشه است که ناگهان مثل آفتاب خاموش می شوند.
به دوستان و بازماندان این فرزانه مرد اندیشه صبر بزرگ از خداوند بزرگ تمنی دارم.
یادش گرامی و نامش جاودانه باد.
انا لله و انا الیه راجعون»

رحمت آریا:

«د هـېـواد د پیاوړي شاعر، لیکوال او د معادنو د مسلکي انجنیر او د افغان جرمن د پورټال د قلمي همکار جناب سلطان جان کلیوال په نابېره مړینه ډېر خواشینی سوم.

إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ.

الله تعالی دې ورته مغفرت وکړي او روح دې ښاده او یاد ډیوه دې تل ژوندوی وي. الله تعالی دې ورسره ښه وکړي. کورنۍ او دوستانو ته ئـې خپل تسلیت وړاندې کوم.»

سيستانی:

«وفات انجنیرسلطان جان کلیوال، شاعر ودانشمندعلوم زمین شناسی وشخصیت خلیق وخوش برخورد وبرخورداراز تمام خصایل افغانیت وعلمیت مایه تاثرجامعه علمی کشور به حساب می آید. به وابستگان ودوستانش تسلیت عرض میکنم.روحش را شاد ویادش را گرامی میخواهم.»

**ښاغلی انجنیر سلطان جان کلیوال دی خدای وبخښي،**
**کورنۍ، دوستانو، مینه‌والو او د افغانستان**
**د فرهنګ د لویې کورنۍ ټولو غړو**
**ته د تسلیت مراتب وړاندې کوم.**

**اناالله و اناالیه راجعون**

**www.dawatmedia24.com**